مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۲/۱۰

# غضب

وینښتان یې په یوه ډډه کاږه ول.همداسې کږه غاړه او د ګوتو په سرونو روانه شوه او په ډک محفل کې د هغه ځوان مخې ته ودریده چې د بانکنوټونو بنډل یې په لاس کې و. د بدن هر غړي ته یې جلا جلا حرکتونه ورکول. ځوان، ځانته راجوخته کړه. یو لاس یې له ملا ورتاو کړ او په بل لاس یې، یو په بل پسې نوټونه په سر ور شیندل چې په ګډا ګډا یې پښو ته رالویدل.

مخ ته یې ځیر شوم. داسې مې ګڼله لکه د ذهن د آرشیف په کوم کونج کې چې مې د دې څیرې عکس پروت وي؛ خو پیدا کولای مې نشو. هغې بیا د طبلې له غږ سره د ګوتو په سرونو میده میده روانه شوه، د ولاړو خلکو له مخې، د شپیلکو او چکچکو په بدرګه، په ناز تېره شوه. لکه د زړونو لو چې کوي، له هر چا یې زړه یو وړ. بیا میدان کې ودریده . دواړه لاسونه یې په نرۍ ملا کېښودل. سر یې ځوړند کړ. د ګروپ رڼا ته یې سپین ښټ وپړکیده او مخ یې زلفو کې یوه شیبه داسې غیب شو تا به ویل تورو وریځو سپوږمۍ برمته کړه. له دې سره شور شو، د لاسونو پړکا شوه او شپیلکې شوې.

دا مې لومړۍ ځل و چې په داسې یو محفل برابر شوی وم. هغه هم د چم ګاونډ د ملګرو په ټینګار. یو ډول ویرې نیولې وم. ما ویل که دا ټول خلک ماته راګوري او سبا به هر یو په نوبت دلته زما د راتګ کیسې زما مشرانو ورونو ته کوي. دسمال مې نور هم په سر راښکته کړ چې څوک مې سیې نه کړي .

شور غلی شو. طبله او رباب ورو – ورو ترنګیدل. ارمونیې والا هم پردو کې غلی غلی د کوم ساز لټون پیل کړی و. هغې په سپین دسمال خولې وچې کړې. دوه درې ځلې یې د پښو پنجه لږ پورته او بیرته پر ځمکه کېښوده، ګونګروګانو شور جوړ کړ. نوې نغمه پیل شوه او ستړې نڅاګرې بیا حرکتونه پیل کړل. یوه پنجه یې په زوره په بلې ووهله. ځوړند سر یې پورته کړ، له دې سره خورې زلفې شاته لاړې، سپین مخ راووت او بیا د لاسونو داسې پړکا شوه چې ټول ساز پکې ورک شو .

یوه بریتور،چې له خولې یې شنه لوخړه راووتله، جیب ته لاس کړ، د کاغذي نوټونو بنډل یې راوویست او بیا یې ناره کړه: ځار شم شمینې. راشه چې بې اوره دې ستې کړم!

شمینه، په ناز ناز د بریتور خواته روانه شوه. هغه ترې دواړه لاسونه راتاو کړل، یوه شیبه یې سینې پورې داسې جوخته ونیوله، ما ویل که اوس به بند په بند ماته شي. بیا یې له لاسه ټینګه کړه، دوه درې ځلې ورسره تاو راتاو شو او بیا د پیسو شیندلو نوبت شو .

د شمینې نوم، مې ذهن کې انګازې وکړې. لکه غره کې چې د چا نوم اورې؛ خو ځای یې سیې کولای نشې. ساز او نڅا هماغه شان ګرمه روانه وه؛ خو زما ذهن د دې نوم په لټون پسې ستړی و. یو ناڅاپه رایاد شو:

کور مو په نوتیه کې و. دې ځای ته له صدر بازاره یوه تنګه کوڅه غځېدلې وه. د کوڅې په اخري سر کې زیارت و. همدلته به وړو نجونو او هلکانو لوبې کولې او ځینو پیغلو به زیارت کې د خپلو مینو زړونو مرادونه غوښتل.

مازیګر قضاء چې له لوبو ستړی ستومانه کور ته لاړم، نو هغه سپین سرې ګاونډۍ مې له مور سره کټ کې ناسته وه. دا به وخت نا وخت مور. کره راتلله او د چم ګاونډ کیسې به یې کولې .زه هم د کټ پر بازو کیناستم .دا میرمن، ټولو ببۍ بلله. که څه هم مور. کډوال وو؛ خو دې مهربانې ښځې داسې چلند کاوه لکه نږدې خپلوان چې یې یوو.

هغې بیا غوږونو ته لاس کړ: توبه مې دې شي خدایه، سهار د سلماګۍ کور ته تللې وم. ماشوم یې شوی و. خو نه هلک دی او نه جینۍ. له داسې بچي خو چې هیڅ لنګه شوې نه وای ښه به و. دا شرم به اوس چرته وړي.

مور مې هم ،د خدایه توبه، جمله څو ځلې تکرار کړه. بیا دواړه غلې وې؛ خو زه په فکرونو کې غرق وم. ښه: ماشوم خو یا هلک وي او یا نجلۍ. چې دې دواړو کې یو هم نه دی، نو دا به څه وي؟ همدې چورتونو کې وم چې ببۍ پورته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوه او په تلو تلو کې یې ویل: په خپلو اولادونو شکر وکاږه، خدای مو د سلماګۍ غریبې له حاله وساته. سم غضب کې راګېر ده .
کلونه تېر شول. زموږ د مهاجرو ښوونځی آن بورډ بازار کې و. مجبور وم وختي لاړ شم او چې بیرته به کورته راتللم، نو ستړی به وم. لوبو ته د پخوا په څیر وزګار نه وم. بس، د جمعې ورځې ته به مې ګوتې شمیرلې.
په هغه ورځ چې مو لوبې کولې؛ نو یو دم، یو هلک غږ کړ: شی بیا راغی! چې ور ومې کتل نو ښه مې لیده چې زړه مې داسې له کالبوته ووت لکه یو ناڅاپه چې د قفس ور خلاص شي او بندي مرغۍ والوځي. په تورو جامو کې ولاړه وه. د ویښتانو سرونه یې پر سپینې ټنډې راځوړند وو. سپین او سره غومبوري یې پړکیدل. یوه هلک ورو وویل: په والله چې سمه کابلۍ مڼه ده.
موږ لوبه پریښوده، چا پټ او چا ښکاره ور کتل. دا ورو ورو د نجونو خواته لاړه. هغوی یې هم په ننداره شوې، یوه شیبه ولاړه وه او بیا ور پسې له کوره چا غږ کړ او لاړه.
یوه ملګري ویل: سخت مال دی، خو له کوره بهر یې لوبو ته په اسانه نه پریږدي. یاره مړه، هیڅ پوه نشو چې دا اوس هلک دی که جینۍ، بس هر څه چې دی خو سمه خوږه خربوزه ده او له دې سره ټولو وخندل.
ټوله شپه مې همدې یوې خبرې مغز کې شور جوړ کړی و: چې دا اوس هلک دی که جینۍ! خوب سر خوړلی و، کله مې په نوي زلمي شوي زړه دا نایابه حسن وریده او کله د دې د جنسیت په اړه مبهمه جمله.
د ژمي لنډې ورځې راته دومره اوږدې شوې ما ویل که جمعه اوس میاشت پس راځي، جمعه به راغله، د هماغې د لیدلو په نیت به له کوره راووتلم، ټول ورځ به تیره شوه؛ خو له خپلو مشتاقو او محرومو سترګو سره به کور ته ستون شوم. لکه ملنګ چې خالي کچکول خپلې جونګړې ته لاړ شي .
په هغه جمعه چې کرکټ ته راووتلو، نو پیچ مو جوړ کړ، ویکټې مو ودرولې، له بال مو تور رابرټیپ راتاو کړ. لوبې ته چمتو شو؛ خو ملګري نه پوره کیدل. خپلو کې مو کیسې کولې. یوه، یو دم غږ کړ: هغه دی! ژر مې مخ واړو، ما ویل که خپله ورکه پس له ډېرې مودې بیا په ګیر راغله. خو هغه یو چاغ سړی و او له پنچر بایسکل سره روان و. ملګري ویل: هغه مال د همده اولاد دی!
یو بل غږ کړ: د خدای انصافدارو، لږ رخم ( رحم) وکړئ. قسم دی، تیره ورځ مې باجي ( خور) همدوی کره تللې وه، په سرو سترګو راغله. هغې ورسره ښه ډیر ژړلي و. ورته ویلي یې و: کور کې راسره بد سلوک کیږي. په نه خبره مې وخي ( وهي ) . سپکې سپورې راته وایي. بهر چې لاړه شم، هلکان مې تنګوي. نجونې مې ځان سره نه پریږدي او خندا راپورې کوي. یو دم په جړا ( ژړا) شوه. او بیا یې ویل: یا به خودکشي کوم او یا به کور پریږدم. له دې جونده خو مرګ ښه دی.جړا یې، کابو کړه او ویل یې: نو دې کې زما څه قصور دی؟ زه خو په خپله خوښه داسې دنیا ته یې نه یم راغلې. یه خدایه، دا څه په غضب کې راګیر یم.
نورې خبرې یې سلګیو کې ورکې شوې او غریبه له کټه پورته شوه. پریږم چې کله ځان مړ نه کړي. دا شمی ...
له همدې سره محفل کې د اخري سندرې په پای کې شور شو. طبله چي، په اخري زور اخري ټک طبلې ته ورکړ. ساز خاموش او مجلس په خوریدو شو. له سټېج ستومانه شمینې یو بریتور غیږه تاوه کړه، موټر ته یې پورته کړه او راټولو خلکو چیغې کړې:
مزې دې وکړې، بختوره. ښه مال په ګوتو درغی!

محمد نعمان دوست
۱۴۰۰، لیندۍ ۱۸مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ